# د روژي احكام

ليكوال: هيثم سرحان

**<u>لغة البشتو</u>**



# د روژه احکام

## ❖ د روژې پېژندنه :

د لغت له مخې: بندولو ته وايي.
په شرعه کې: روژه دالله تعالی بندګي کول په ځان بندولو سره د خوراک او څښاک او د ټولو روژه ماتوونکو شيانو څخه د رېښتني سبا راختلو نه تر لمر ډوبېدو پورې.

## ❖ د روژې رکنونه:

١. نيت کول.
٢. د روژې ماتوونکو شيانو نه ځان ساتل.

## ❖ د نيت کولو ډولونه:

١- د فرضي روژو لپاره د شپې نه نيت کول لازمي دي. يعني د سهار نه مخکې، او د مياشتې داخلېدلو سره نيت کول کفايت کوي، او د نيت کولو ځای زړه دی، او په نيت باندې تلفظ کول بدعت دی.

٢- د نفلي روژو لپاره نيت کول: د ورځې په هر وخت کې نيت کېږي، خو اجر به يې د نيت سره شروع کېږي.

## ❖ د روژې قسمونه:

٣- واجب: روژې مياشت، کفارې، نذرونه
٤- نفل .

## ❖ نفلي روژې:

١- د شوال مياشتې شپږ روژې نيول، د هغه چا لپاره چې د

رمضان روژې يې تکميل کړي وي, او غوره طريقه يې داده چې د اختر له دوهمې څخه يې پرلپسې ونيسي.

٢- د حاجي پرته د نورو خلکو لپاره د عرفې ورځې روژه نيول

٣- د عاشورې ورځې روژه نيول، د نهمې او يوولسمې ورځې سره.

٤- د هرې دوشنبې او پنجشنبې ورځې روژه نيول، خو ددوشنبې روژه ډېره مؤکده ده.

٥- د اسلامي مياشتو (أيام البيض) يعنې ديارلسمه، څوارلسمه پنځلسمه ورځ روژه نيول.

٦- يوه ورځ روژه نېول يوه ورځ نه نيول.

٧- د محرم مياشتې روژې نيول.

٨- د ذي الحجې مياشتې نهمه ورځ روژه نيول.

٩- د شعبان مياشتې روژې نيول، البته ټوله مياشت به نه نيسي.

### ❖ مکروه روژې :

- د جمعې ورځې، د شنبې ورځې، د يک شنبې ورځې يواځې روژه نيول, البته که د يو سبب لامله يواځې ونيول شوه باک نه کوي, لکه د عرفې ورځ په دغو دريو ورځو کې يوه ورځ راشي

### ❖ حرامې روژې :

١- يواځې د رجب مياشت ځانګړې کول د روژو لپاره.

٢- د شک روژه نيول، البته که د چا روژې عادت و او شکې ورځ روژه يې هم ونيوله باک نه کوي.

٣- د دواړو اخترونو په ورځ روژه نيول.

٤- د تشريق (د لوی اختر دويمه دريمه څلورمه) ورځ روژه نيول، مګر هغه څوک چې قرباني نلري هغه لپاره باک نه کوي.

٥- ټول عمر روژې نېول.

٦- ( قضايي روژې پرلپسې نيول باک نه کوي , لېکن ښه خبره داده چې

د اختر ورځې وروسته سمدستي ونيسي, او تر بل رمضانه يې ځنډول جايز نه دي ,که چېرې پرته له عذره يې وځنډولې روژې پرې نه زياتيږي خو ګناهګاريږي.

### ❖ د رمضان مياشتي د روژې نيولو شرطونه:

١- اسلام.
٢- بالغ کېدل: خو مميز او هوښيار ماشوم به روژو نيولو ته هڅول کيږي او ولي -مشر- به ورته په روژو نيولو امر کوي .
٣- عقل درلودل.
٤- د حيض او نفاس نه پاکوالی.
٥- مقيم به وي: ( په مسافر باندې روژه فرض نه ده، خو روژه نيول ورته بهتر دي که مشقت ورته نه وي، درسول الله صلى الله عليه وسلم د عمل د وجې نه، او ذمه ورسره ډېر ژر برى کيږي، او مکلف انسان ته به هم اينده کې آسان وي، او د روژې فضيلت ورسره هم رانيول کيږي.
٦- صحتمند به وي.

### ❖ په روژه کې ناروغي په دوه ډوله ده:

١- هغه ناروغي چې د ښه کېدو اميد يې نه وي په دې کې هغه بوډا هم شامل دي چې د روژو نيول توان نلري، په ده باندې روژه لازمه نه ده؛ ليکن د هرې روژې په بدله کې دي يو مسکين ته خوراک ورکړي، يا خو دي د ورځو په شمېر همغومره مسکينان راجمع کړي، او د غرمې او يا د ماښام ډوډۍ ورکړي، او يا دې مسکينانو ته په جلا جلا-زانته زانته- وختونو کې د ورځو مطابق د پيمانه څلورمه برخه د غنمو ورکړي, چې :( نيمايي کيلو او لس ګرامه غنم) دي، او ښه خبره دا ده چې د غوښې وغيره شوروا ورسره ورکړي.

۲- هغه ناروغي چې د ښه امید ترې کیږي، دې کې حایض او نفاس او تی ورکوونکې زنانه او مسافر هم شاملې دي، نو دوی چې هر څومره روژې خوړلې وي کله چې ښه شي د هغې مطابق دي، که د ښه کېدو نه مخکې مړ شي نو روژې ترې ساقطیږي. روژه د رمضان میاشت لېدلو سره، او یا د شعبان میاشت دېرش ورځو پوره کېدو سره ثابتیږي .

❖ د روژې فاسدوونکي شیان:

(په دې کې هغه څوک معذوره دی چې ناپوه وي یا هېروونکی وي یا یې مجبور کړی)

۱- په قصدي توګه خوراک او څښاک کول، که په هېره سره څوک خوراک یا څښاک وکړي روژه یې نه فاسدیږي.
۲- انزال د مني په مباشرت، ښکلولو یا غیږ اخیستلو وغیره سره.
۳- حجامت سره وینه ویستل که د معاینې وغیره لپاره معمولې وینه وویستل شي باک نه کوي.
٤- قصدا قی کول.
٥- که د واجبې روژې نزولو پر مهال کوروالی وکړي، مغلظه کفاره به ورکوي یعني یا به غلام ازادوي که دا نشي کولای یا به دوه میاشتې پرلپسې روژې نیسي، که دا کار هم نشي بیا شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکوي.
٦- هغه څه چې د خوراک او څښاک په معنی وي لکه د تغذیې پیچکاري وهل ، که د تغذیې لپاره نه وي بیا پرې نه فاسدیږي.
۷- د حیض یا دنفاس دناروغیو وینه خارجېدل.

❖ په روژه کې غوره او مستحب عملونه:

۱- پیشلمی کول .
۲- د پیشلمي وروستوالي کول.

٣- روژه ماتی أول وقت كي كول.
٤- روژه په تازة كجورو ماتول .
٥- په روژه ماتي كي او روژي پرمهال دعا كول.
٦- صدقي ډېرې وركول.
٧- د شپې په لمونځونو كې ډېروالی راوستل.
٨- د قرآنكريم تلاوت ډېر كول.
٩- عمره كول.
١٠- څوک چې درته كنځل كوي هغه ته ( زه روژه يم) ويل.
١١- د قدر شپې پلټنه كول.
١٢- په اخېرې لسو شپو كې اعتكاف كول .

## ❖ د روژې مكروهات:

١- له اړتيا پرته د خوراک خوند څكل.
٢- په خوله او پوزې مينځلو كې مبالغه كول، يعنې اوبه ځان ته ډېر راكاږل.

## ❖ س- ايا په روژه كې په حرامو او ناروا خبرو باندې روژه فاسديږي؟

دا كارونه روژه نه فاسدوي؛ لكن د روژې په اجر كې كموالی راولي، او ددې خبرې امكان هم شته چې د روژې اجر مكمل لمنځه يوسي.

## ❖ د رمضان په مياشت كې سګرټ څكل !

د سګرټ څكل په رمضان او غېر رمضان دواړو كې حرام دي، او د هر شي څكل خپل حكم لري، سګرټ خو څكلو كې داخليږي، هو ددې څكل حرامو سربېره انسان ته زيان هم رسوي، ددې نه دا معلوميږي چې سګرټ څكل خو روژه ماتوي، سره ددېنه چې دې كې څومره ګناه هم ده .

## ❖ په رمضان كې لاړې تېرول:

په رمضان کې د روژه دار لپاره لاړې تېرول باک نه کوي، د وجې د مشقت نه او په دې وجې چې ځان ساتل ترې ګران دی .

❖ د روژه دار لپاره په رمضان کې لامبو وهل:

د روژه دار لپاره په رمضان کې لامبل باک نه کوي، د هغه لپاره دا هم روا دي چې څه رقم لامبي، او اوبو کې غوپه ووهي، او احتیاط دې وکړي چې د هرې طریقې سره اوبه خېټې ته داخلې نشي.

❖ په رمضان کې د بلغم تېرولو احکام :

کله چې بلغم د خولې له لارې خیټې ته داخل نشي په اتفاق سره روژه ورسره نه ماتیږي، دا په مذهب حنبلي کې یو قول دی هیڅ اختلاف پکې نشته، او که خولې ته ورسېدل بیا یې تېر کړل پدې کې د اهل علمو دوه قوله دي، ځینې وایي: چې په دې سره روژه ماتیږي او خوراک څښاک باندې یې قیاس کوي، او ځینې وایي چې نه ماتیږي په لاړو باندې قیاسوي. مهمه خبره داده چې د بلغم د تېرولو کوشش دې نه کوي چې د مرئ له لارې بلغم تېر کړي، که خولې ته راورسېدل باید ویې غورځوي که روژه وي او که نه، او روژه ورسره ماتیږي او که نه ماتیږي دا دلیل ته اړتیا لري او په دې خبرة کوم دلیل نشته.

❖ د روژې پر مهال مسواک وهل.

مسواک استعمالول د روژه دار لپاره د نورو سنتونو غوندې یوه سنت طریقة ده، په اول او اخر د ورځې کې استعمالول جایز دي.

❖ د روژې پرمهال یې اودس کولو وخت کې اوبه خولې ته داخلې شوې.

څوک چې غسل کوي یا خولې ته یا پوزې اوبه اچوي او بې اختیاره یې مرئ ته اوبه داخلې شي روژه یې نه فاسدیږي .

❖ په هېره سره خوراک څښناک کول:

څوک چې په هېره سره خوراک یا څښناک وکړي باک نه کوي روژه يې صحيح ده، خو که د خوراک او څښناک وخت کې ورته وریاد شي په هغه لازمه ده چې مړی یا اوبه وي ويې وغورځوي.

❖ په رمضان کې د ارایش ـ میک اپ ـ سامان استعمالول:

هغه څه چې د مخ ښکلا ورسره کېږي لکه صابون، کريم وغيره چې ظاهر پوستکي پورې تړاو لري چې ځينې له هغې څخه نکرېږي لګول او ـمیک اپـ وغيره کول دي، دا د روژه دار په حق کې هيڅ باک نه کوي، استعمالولای شي.

❖ په روژه کې د سترګو څکک استعمالولو حکم :

د روژه دار لپاره رانجه یا د سترګو یا د غوږونو څکک استعمالول څه باک نه کوي، اګر که مرئ کې يې تریخوالی هم حس کړي باک نه کوي، ځکه چې دا خوراک او څښناک نه دی.

وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه وسلم